## په امریکایي سوله کې د سیمه ییزو هېوداونو او افغانانو پر ونډه ټینګار؛ یعنې څه؟!

په افغانستان کې د امریکایي سولې لپاره د امریکا خاص استازی زلمی خلیل‌زاد د خپل اووم سفر په ترځ کې پر دې ټینګار کوي چې د سولې خبرې اترې نوې پړاو ته داخلېږي او افغانان باید تر پخوا ډېر په دغه پروسه کې ښکېل شي. نوموړی دې ته ورته د سیمې د هېوادونو پر ونډه او همغږۍ هم ټینګار کوي.

خلیلزاد له اشرف غني سره د لیدو پرمهال ویلي وو چې د افغانستان د سولې موضوع له افغان حکومت سره په هم‌غږۍ کې پرمخ ځي او کابل او واشنګټن په‌دې برخه کې په یو نظر دي. له همدې امله زلمی خلیلزاد دا ځل په افغانستان کې ډېر تم شوی او د افغان حکومت له مشرانو، اکثرو مطرح سیاستوالو، مدني ټولنو، ښځو، نړیوال بانک او د ځینو هېوادونو له سفیرانو او استازو سره لیدنې کتنې کړې دي. ترڅو د امریکایي سولې لپاره ملي، سیمه ییزه او نړیواله اجماع رامنځ ته او یا هم پیاوړې کړي.

له پورتنیو هڅو سره-سره د افغانستان مسلمانان باید د خلیلزاد، لاسپوڅي افغان حکومت او موجوده سیاسي مشرانو په څرګندونو او هیله مندیو باندې و نه غولېږي او پر دې باید کره عقیده ولري چې امریکا د سولې په هڅو کې ریښتینې نه ده. ځکه امریکا او افغان حکومت سره له دې چې له طالبانو سره د سولې خبرې اترې کوي، مګر د داعش او شلو نورو «تروریستي» ډلو د فعالیتونو د ستر ښودلو لپاره هم پراخ تبلیغات کوي او له هغوی سره د سولې پر مېز د خبرو اترو هېڅ آجنډا او کومه اراده نه لري. همدغه واقعیت پر دې دلالت کوي چې امریکا د سولې د پروسې له لارې طالب مشران له لاسپوڅې ډیموکراتیک او سېکولر دولت سره یو ځای کوي، ترڅو بې سرپرسته طالب سرتېري یې د داعش او یا نورو وسله والو ډلو سره یوځای شي او د افغانستان پر خاوره داسې جګړې ته دوام ورکړي چې په سیمه ییزه کچه امریکا ورڅخه ګټه پورته کړي.

امریکا د سولې له دغه پروسې څخه لاندې ګټې ترلاسه کوي:

**لومړی:** امریکا به له طالبانو سره د سولې له تړون وروسته نړیوالو او خپلو عامه افکارو ته په فاتحانه انداز کې ووایي؛ کومه جګړه چې امریکا په افغانستان کې پیل کړې وه، هغه یې په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او دا به په افغانستان کې د امریکا د ماتېدو له رسوایۍ څخه خوندي کړي او حاکم ګوند به یې د امریکا د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره د ټاکنیز کمپاین په توګه وکاروي.

**دویم:** له طالبانو سره د سولې تړون له لاسلیک وروسته چې د افغانستان پر خاوره کومه جګړه دوام کوي، د هغې بشري او اخلاقي بار به د امریکا پر اوږو نه بلکې د سیمې د هېوادونو او له هغوی سره د تړلو افغان سیاسي مشرانو پر اوږو وي، کوم چې نن یې خلیلزاد غواړي په دغه پروسه کې تر پخوا ډېر ښکېل کړي. دغه سیاسي مشران به د لومړي بن په څېر د دویم ځل لپاره د امریکا په لومه او غېږ کې ولوېږي، چې د عطا محمد نور په خبره تر پیپسي بوتل به یې ډېر ناوړه وکاروي.

**دریم:** امریکا دا ځل په افغانستان کې تر کورني کړکېچ سیمه ییز کړکېچ ته ډېره لېواله ده، نو له همدې امله په دوامداره توګه د خپلو نظامي او سیاسي مشرانو د څرګندونو له لارې د داعش لپاره پراخ تبلیغات کوي. خو له دې سره هم مهاله وېرېږي چې داسې نه چې داعش په حنفي مذهبه افغانستان کې د وهابي مذهب درلودو له امله د پښو ځای و نه مومي، نو هڅه کوي چې په افغانستان کې د القاعدې د ځینو عناصرو او جنګیالیو پر حضور هم ټینګار وکړي. ځکه دغه دواړه ډلې له ملي پولو څخه پراخې اجنډاګانې لري او امریکا یې کولی شي د چین لپاره په شرقي ترکستان او د روسیې لپاره په منځنۍ آسیا کې د افغانستان له خاورې وکاروي. دې ته ورته د پاکستان او ایران د تضعیف او پر هغوی د فشار راوړلو په موخه هم کاربدای شي.

**ځلورم:** امریکا غواړي د نړیوال بانک او نورو نړیوالو سازمانونو له لارې د سولې له تړون وروسته افغانستان سره پراخې مالي مرستې چمتو کړي، ترڅو طالب مشران هم په هماغه طریقه چې پخواني مجاهدین (شمالي ټلواله او اسلامي حزب) یې له ډیموکراتیک او سېکولر نظام سره یوځای کړل، ورپسې یې فاسد او په پایله کې یې خلع قدرت کړل، له شته لاسپوڅي دولت سره یوځای، ورپسې فاسد او په پایله کې یې خلع قدرت کړي.

نو د افغانستان مسلمان ولس، سیاسي او وسله والو ډلو او مطرح مشرانو ته په کار ده چې د امریکا دغه خبیث نیت درک کړي او له هر ډول امریکایي پروسو سره مقاطعه اعلان کړي. ترڅو امریکا د خپل تاریخ په تر ټولو اوږده جګړه کې په ګونډو شي او ماتې یې د امپراطوریو په هدیره کې شرق او غرب ټول احساس کړي. ځکه امریکا غواړي د سولې د پروسې له لارې خپله تنګه شوې ساه تازه کړي او د وحشي اشغال څېره په وینې ځېښبنونکي استعمار بدله کړي. امریکا او امریکایي وعدو ته د هیلو پر ځای د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم وعدو ته هیلې پیدا کړي او د هماغه هیلو لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه په ټولنه کې د بنسټیز بدلون لپاره مبارزه وکړي او د راشده خلافت د تاسیس پر لور افغانان رهبري کړي. ځکه الله سبحانه وتعالی پخوا او اوس، له ازله تر ابده د بشر او کایناتو پر ټولو چارو مسلط او برلاسی دی. دا شرایط او ستونزې یوازې د بشر د ابتلا او افشا کولو په موخه په دنیا کې شتون لري. نو د حق او باطل تر منځ په روانه جګړه کې د حق پلوي وکړئ، ترڅو زموږ او ستاسو د دنیا او آخرت د سوکالۍ سبب شي. نو هرهغه سیاسي مشر او افغان چې له دغه ډول امریکایي پروسو سره مرسته کوي، په افغانستان کې به د راتلونکو فاجعو او ناورینونو دروند مسوولیت هم پر غاړه ولري.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**